مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: مسعود فاراني
ژباړن: سیلانی

۲۰۲۰/۰۴/۲۴

# د هند په نیمه وچه کې د لودي کورنۍ له خوا د دري ژبې خپرول



په هند کې د غوري ا و خلجي واکمنیو څخه وروسته، د لودیانو سیاسي خوځښت د هند په نیمه وچه را څرګند شو. کهٔ څهٔ هم لهٔ سلطان بهلول لودي څخه مخکې، شیخ حمید لودي د ( 370-380. ه.ق ) کلونو ترمنځ د ملتان په سیمه کې د شاه په توګه واکمني کړې ده، مګر د پنځلسمې میلادي پیړۍ لهٔ نیمایي وروسته سلطان بهلول لودي د لودي شاهانو د سرلاري په توګه د هند په نیمه وچه کې پیژندل شوی دی. لودیانو لهٔ مغولانو مخکې په هند کې د لودي تمدن بنسټ ایښی دی.

سلطان بهلول لودي یو پهٔ زړهٔ پورې تاریخ او برخلیک لري، چې د هغهٔ لوستل د تاریخي پوهاوي ترڅنګ ځانته ځانګړې خوږلني هم لري.

سلطان بهلول لودي

»بهلول لودي» چې پهٔ ماشومتوب کې د « بلو » پهٔ نامهٔ یادېدهٔ، دملک کالا زوی او د بهرام خان لمسی دی. دهٔ مخکې لهٔ زیږېدو خپل پلار او د زیږدو پر مهال خپله مور لهٔ لاسه ورکړه. د هغه روزنه پهٔ هند کې د هغهٔ ترهٔ اسلام خان حاکم « سرهند» ته ور پهٔ غاړه شوه.

اسلام خان خپل ورارهٔ چې نوی ځوان شوی و، یوې جګړې ته و استوه. بهلول پهٔ دغه جګړه کې لهٔ ځانه ډېره وړتیا، زړورتیا او درایت ښکاره کړ، چې پهٔ پایله کې لهٔ یادې جګړې بریالی راستون شو. د بهلول دغه بریا ټول ځانته مجذوبه کړل، پهٔ ځانګړې توګه خپل ترهٔ اسلام خان، چې حتی دی یې د خپل زوم پهٔ توګه و مانه.

اسلام خان د مړینې پر مهال د درېیو زامنو پهٔ درلودلو سره وویل چې بهلول د خپلې پوهې، زړورتیا او درایت له مخې کولی شي زما ځای ناستی شي. مګر د ډهلي واکمنۍ بهلول د والي به توګه و نهٔ مانهٔ او ددهٔ پرځای یې د نوموړي یو بل ترهٔ فیروز خان د اسلام خان پرځای وټاکهٔ، ترڅو د »سرهند » دنده پر مخ یوسي او د بهلول د ځپلو لهٔ پاره یې لهٔ پلازمېنې یو مجهز پوځ ور ولیږهٔ. دا چې فیروز خان یو پوه او د لوړ فکر خاوند و او خپل ورارهٔ بهلول سره یې مینه او هغهٔ ته درناوی درلود، نو د ځان ګومارل یې د بهلولو پر ځای د ډهلي لهٔ خوا د دوی پهٔ کورنۍ کې یو ډول مداخلهٔ او تفرقه وګڼله، نو خپله د ډهلي د واکمنۍ پر وړاندې ودرېدهٔ او بهلول ته یې دا اجازه ور نه کړه چې لهٔ دولتي ځواکونو سره ښکېل شي. څکه دولتي ځواکونه ډېر وو، نو فیروز خان لهٔ یوې لنډې جګړې وروسته د دولتي ځواکونو پهٔ لاس کې اسیر شو او یو زوی یې د شاهین پهٔ نامهٔ ووژل شو. پهٔ دې توګه د « سرهند» واکمني د لودیانو لهٔ لاسه ووته.

دغه مهال د هند واکمني د خضرخان سادات د کورنۍ د یوه غړي، سلطان سید محمد شاه پهٔ لاس کې وه. کهٔ څهٔ هم د هند واکمن پهٔ خپله یو حلیم او پوه کس و، خو پهٔ دربار کې د ځینو مغرضینو پهٔ نغوته دې ته و هڅول شو چې د لودیان پهٔ سیمه کې مداخله وکړي، چې پهٔ ترڅ کې یې لودیان دیوې لنډې مودې لهٔ پاره د « سرهند » لهٔ واکمنۍ لرې پاتې شوو.

بهلول د خپل ترهٔ لهٔ بندي کېدو وروسته د هغهٔ او د هغهٔ د زوی د کورنیو روزنه پهٔ خپل لاس کې واخیسته او پهٔ دغهٔ ترنګلي وضعیت کې یې د پوځ پهٔ را ټولو لاس پورې کړ، چې پهٔ ډېر لږ وخت کې یې 20 زره کسان تر خپلې مشرۍ لاندې د جګړې لهٔ پاره چمتو کړل. بهلول ددغو پوځیانو پهٔملتیا وکولی شول، چې یو ځل بیا د سرهند ولایت واک پهٔ خپل لاس کې ونیسي او وروسته یې پهٔ یوهٔ لیک کې ټول حقایق پادشاه ته ولیکل او هغه یې خپلو تېروتنو ته متوجه کړ. ددې تر څنګ پهٔ لیک یې ځان د سلطان سید محمد شاه د واکمنۍ مطیع اعلان کړ. سلطان سید محمد شاه چې د یادې قضیې لهٔحقایقو خبر شو، د خپلې تېروتنې د جبران پهٔ موخه یې بهلول د ټولو دولتي اراکینو پر وړاندې، دخپل زوی پهٔ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

توګه ومانهٔ او هغهٔ یې د دولت اراکینو ته د دولت لهٔ نږدې مقربینو پهٔ توګه ور و پېژاندهٔ. هېره دې نه وي چې دا امر وروسته لهٔ هغهٔ تر سره شو، چې سلطان سید محمد شاه د بهلولو پهٔ مشرۍ د سرهند ولایت واکمني د سلطام محمد خلجي څخه ترلاسه کړه. د بهلول بریا ددې لامل شوه، چې ددهٔ دریځ او ځواک پهٔ دهلي او ګاونډو سیمو کې خپره کړي.
لهٔ کومه ځایه چې د سید محمد شاه سکنی زوی( سید علاوالدین) لهٔ بهلول څخه وړوکی و، نو بهلول لودي ته یې مشر ورور ویل او هغهٔ ته یې ډېر درناوی درلود. کله چې سید محمد شاه ( 1447 م) ومړ، ځیناستی یې سید علاوالدین د ډهلي واکمن شو. سید علاو الدین یو استراحت طلبه شخص و، چې پهٔ ډېره لږه موده کې د واکمنۍ چارې د خپل وزیر اعظم حمید خان سره، د اختلافاتو لهٔ امله و پاشېدې. حمید خان پهٔ پټه د « بدایون » ایالت څخه ډهلي ته راغی او د سلطان سید علاوالدین پر وړاندې یې پهٔ توطئو لاس پورې کړ. کله چې ملک بهلولو لودي ډهلي د حمید خان لهٔ نفوس او ځواک څخه پاک کړ، نو سلطان علاو الدین ته یې پیغام ور استوهٔ، چې راشه د ډهلي سلطنت پهٔلاس کې واخله. خو علاوالدین ملک بهلول ته پهٔ ځواب کې وویل: تهٔ زما مشر ورور یې، زما لهٔ خوا دې سلطنت تاته در مبارک وي او زهٔ ستا لهٔ سلطنت څخه بیعت کوم او ددې ترڅنګ خپلو ټولو درباریانو ته یې وویل، چې زما پلار ملک بهلول ته زوی ویلي و او تر څنګ یې د خلکو پر وړاندې ددهٔ ربښتنولي موږ ته دا ثابتوي چې موږ ورته خول ( تاج ) او تخت ډالۍ کړو. نو پهٔ دې توګه ملک بهلول لودي دیو مدبره او صادقه شخص پهٔ توګه پهٔ1451م کال د هندوستان واکمن شو.
د هندوستان پهٔ ډېرو سیمو کې د هغهٔ پهٔ نوم سکه ووهل شوه او پهٔ جوماتونو کې د هغهٔ پهٔ نوم خطبې وویل شوې. د جونپور، دهولپور او سند سیمې چې پخوا د هند د واکمنۍ پهٔ سیمو کې نه وې شاملې، دده پهٔ واسطه را دننه شوې او دډهلي د واکمنۍ سیمو ته یې پراختیا ورکړه.
سلطان بهلول لهٔ دې لویې سره سره، ډېر شکسته نفسه، متواضع، عادل، مهربانه دوست او یو بردباره صبور دښمن و . هغه د سلطنت پر تخت نهٔ کښېناستهٔ، عادي ځمکه یې لهٔ شاهي تخت څخه غوره ګڼله او ډېری وخت پهٔ ځمکه کښېناستهٔ .تاریخ دسلطان بهلول پهٔ هکله لیکي چې دی به هر وخت د خپل رعیت لهٔ ستونزو او حالت څخه باخبره و. کهٔ کومه ورځ به یې درباریان او امیران ترې پهٔ کومه خبره خفه او ناراحته کېدل، نو خپله به د هغوی پوښتنې ته ورغی او هغوی به یې پهٔ غېږ کې را ټینګول او وروسته به یې خپله توره پرته لهٔ کوم ریا او شک څخه، هغهٔ ته پهٔ دواړو لاسونو ونیوله او ورته وبې ویل: کهٔ چېرې زه د پادشاهۍ وړ نهٔ یم، نو تاسو کولی شئ، ماته کومه بله دنده را وسپارئ.
سلطان بهلول لودي تر نورو ډېر پر غریبانو او فقراوو مهربانه و او د علماوو او خبرګانو به یې ملاتړ او درناوی کو. د خلکو راتګ یې دځان د لیدلو لهٔ پاره دومره اسانه کړي و، چې هر چا پهٔ ډېرې اسانۍ سره کولی شو، چې دی وګوري.
سلطان بهلول ددې ترڅنګ چې یو ښهٔ سیاستمداره و، د پښتو ژبې یو ښهٔ شاعر هم و. د بېلګې پهٔ توګه یې د کلام بېلګه تاسو ته وړاندې کوم:

ملک به زرغون کړم پهٔ ورکړ راسه
ګوره، وربخې د داد لهٔ پاسه
خول مې د عدل پهٔ درو روڼ دی
جهان به زېب مومي زما لهٔ لاسه

همدا پوهه، عدالت او ددهٔ مدبرانه سیاست و، چې نوموړي وکولی شول د 38 کلونو لهٔ پاره پرته لهٔ کوم ظلم او جبر څخه پهٔخپلو وګړو او درباریانو واکمني وکړي .
دا لوړ شخصیت پهٔ 1489 م کال د 80 کلونو پهٔ عمر لهٔ دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او زوی یې شهزاده نظام خان مشهور پهٔ سلطان سکندر لودي ددهٔ ځای ناستی شو او دري ژبه یې پهٔ هندوستان کې مروجه کړه.
لیکنه لهٔ نورو سره هم شریکه کړئ. مننه
نور پهٔ بله برخه کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ